بېشكه چې عملونه د نيتونو له مخې (اعتبار) لري

له امير المؤمنين؛ عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صل الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې ويل يې: «بېشكه چې عملونه د نيتونو له مخې (اعتبار) لري، او هر چا ته به هماغه (اجر يا بدله) وي چې نيت يې کړی وي، نو چا چې هجرت د الله او د هغه د رسول لپاره کړی وي، نو د هغه هجرت به (واقعاً) د الله او د رسول لپاره وي؛ او چا چې هجرت د دنيا د (ګټې) لپاره کړی وي چې تر لاسه يې کړي، يا د کومې ښځې لپاره چې نکاح ورسره وکړي، نو د هغه هجرت به (هماغه وي) يعنې د هغه شي لپاره چې هجرت يې ورته کړی دی».

صحيح دی] [د محدثينو دواړو امامانو ابو عبدالله محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بن المغيرة بن بردزبه البخاري او ابو الحسين مسلم [بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري په خپلو صحيحينو کې روايت کړی دی، چې تر ټولو کره تصنيف شوي کتابونه دي

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې هر عمل ته اعتبار په نيت سره ورکول کيږي، او دا حکم په ټولو عملونو کې عام دی، خواه که عبادات وي او يا معاملات، نو چا چې په خپل عمل سره د کومې ګټې اراده وکړه، نو له هغې ګټې پرته ورته بل څه نشته او ثواب يې هم نه کيږي، او چا چې په خپل عمل سره الله تعالى ته د نږدې والي اراده وکړه نو په عمل به يې اجر او ثواب تر لاسه کړي که څه هم هغه يو عادي عمل وي، لکه خوراک او څښاک. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم په عملونو کې د نيت اغيزه داسې بيان کړه چې سره لدې چې په ښکاره به عملونه سره يو شی وي، خو چا چې په هجرت او وطن پرېښودلو سره د الله د رضا اراده وکړه، نو هجرت يې شرعي او د الله تعالى په نېز قبول شوی هجرت دی او د نيت د اخلاص له امله ورته ثواب ورکول کيږي، او چا چې په هجرت سره د دنيوي ګټې اراده وکړه، نو له هجرت څخه يې له همغې ګټې پرته چې نيت يې کړی وي بل څه په لاس نه راوړي او هېڅ اجر او ثواب ورته نشته.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66511